SPINTA

# د لایق شعر او د هغه شاعرانه نوښتونه

آواره وربځې، ابدي پردیسان، ستومان کاروان، په آسمان کې د اوښانو غونډۍ سپینو مالوچوکې د اورونو تړل، د اور امیل، د برېښنا منډه، خوب ځپلی ښار، د ژوند تالنده، د نازولو غوغا، د مستبدو مستی، د مینې زلزلې، د حوادثو ولولې، د آسمان پېغله، ایل شوی یاغی عشقونه، د آسمان ملنډۍ، په مړاوی ګل کې د وېدې خندا راسپړېدل، د وړمو نخښېدل، د سپرلی سا، د نور رڼې ویالې، دسکوت په اندامونوکې زلزله، د عدم تور ګوګل، د تالندې سندرې، د غوټیو لښکرې، د سیندونو په رګونوکې د ترانو وېښول، د غنمو طلایي سیند، په غرونوکې د مرمرو د ناجوکینول، بې روحه خاورې، خوب وړی تمنا، نرۍ مسکا، د آسمان بدله لوبه، په شپوکې د برېښنا خورول، کاڼو ته حواس بښل، د واورو لونګین، نا تمامه منډۍ او نو داسې ترکیبونه او تصویرونه، د لایق د بې ساره شاعرانه نوښتونو یوه کمکۍ بېلګه ده.

د لایق شعر د افغانستان په ادب کې، یوه نوې لاره، نوي اغیز او نوي بهیر دي. هغه په پښتو او دری ادب کې، د بدلون غوښتونکو، د اوښتون غوښتونکو او د ویښتیا غوښتونکو، د فریاد هغه لړۍ توده وساتله چې د شلمې پېړۍ په پیل کې مشروطه غوښتونکو پیل کړه او بیا وروسته ویښ زلمیانو هغه اوږده کړې وه.

هغه په تېرو پنځوسو کلونوکې، د ټولنیزو ملي نیوکو سرلاري پاتې شوی دی:

ماوی دلدار به شي، اغیار شولې
ماوی سیمرغ به شي، ښامار شولې
ماوی د لمر د لارې یار به شي
ته د تیارو علمبردار شولې

د چونغر نوی لیکل شوی، ۲۸ ترانه

SPINTA

د نوروځانګړتیاوو ترڅنګ د لایق په شعرکې همدا داعترض او نیوکوړبه دډېروزیاتو شاعرانو لپاره د الهام او د یوشمیر نورو لپاره د اغیز سرچینه ګرځېدلي ده:

چونغره ستا په ترو ترو باندې
زموږ د اوښکو بارانونه اوري
خو دا د رحم اوبه نه دي ګوره
په تا د خلکو غضبونه اوري

د تا ځوځان د بزګرانو برخه
د تا غنم د نازولو شومه
په هره لاره کې دي ایښې تلګۍ
په هره پوله کې دي لکه لومه

اې د ظالمو مستبدو کوره
آیا زنګونه د زمان درځي
موږه یې وینو په رڼو سترګو
چې ستا لمني ته توفان درځي

کیږدې، ۷۵ مخ

دلایق د شعر نوښت او پر نورو د هغه د اغیز څو غوره او لمړني ټکي په دې ډول یادولي شوو:

ــ پښتو شعر ته د نوي روح، روان او معني ښښل:

چې د دوبی د ګرمی تبه پې راغله
ښایسته ګلان په دښتوکې واښه شول
په ګرمی کې چې رالوی دی نه وچېږي
پخوانی ځوځان پیاوړی شوو ــ لاشنه شول

ساحل، ۱۷۰ مخ

ــ بې تقلیده، د هنر لوړو څوکوته د رسېدو هڅه او هلته رسېدل:

نبض د ځوانی یې خوځاوه کمیس په تن کې
هسې چې بهېږي سپینه وریځه په سپوږمی
تې یې په زانګو داوسیلوکې ښکته پورته
هسې خوځېدل لکه په موج جوره هیلی

غېږېي پرانستـــــلې لکه ګل د سبا باد ته

خوله يې له خنـدا نه ډکه کړی وه مستی

یادونه او درمندونه، ۹۲ مخ

ـ په پښـتنی شعر کې د ډېرو قالبونو او اړانو تر څنګ د نويو

ښکلاوو، جوړښت:

دا به کله راځرېږي د غضب د توپان وريځې

دا به کله ترې اور ېږي سرې سکروټې تندرونه

دا به کله کاڼې چوي، دا به کله غرونه خوځې

دا به کله تکه سره شي د آسمان دا نيلي خونه

دا به کله غشي ولی تر برېښنا چټـــکې ګوټې

دا به کـــــله توره باسي د پولادو مروندونه

دا به کـــله لاره وځې د راڼه جهان پر لوری

دا به کــله پخلا کېـــږي رټل شوی ارمانونه

یادونه او درمندونه، ۱۴۱ مخ

د لايق شعر په پښتوژبې او ادب کې، هغه معنوي رڼا ده چې د ژبې او فرهنګ تياري خواوی رڼا کوي. د يوه پوهان په وينا، شعر يو ډول هغه ذهني هڅې او هلې ځلې دي چې ځينې کسان هغه د خدای پېرزوينه ګڼي او دا پېرزوينه خدای پر لايق پېرزو کړی او لايق يې په څه مينې او خواخوږۍ پر خپلو همڅبو او د شعر پر مينه والو پيرزو کوي.

د يو چا خبره د هغه شعر، د هغې چينې او بو ته ورته دي چې هرې شارې مځکې ته ورسېږي، آبادېږي.

له هر آوازه سيــــــلاوونه وزي

له هره شعـــره زلزلې خوځي

له هرې چغې د مــردانو سره

د ژوند او هيلو قــافلې خوځي

کېږدۍ، ۷۵ مخ

ـ د هغه په شعر کې هغه انديښنې نغښتې دي چې د روح تنده پرې ماتېږي.

SPINTA

ستا په سندروکې اوس کامونه خوځي
گوره چې غلی نه شي ، هېر نه شي
زه د آسمان لوبه بدله وینم
گوره له خپله هوډه تېره نه شي

کیږدی، ۷۵ مخ

ــ که د ایرانی شاعري فروغ خرخ زاد دا خبره ومنو چې وایې: په شعر کې هره کلمه، خپله غریزه لري، که شاعر وکولای شي، د دغې غریزې د اقناع لپاره هم آهنگي پیدا کړي، شعر او ښکلا ترې جوړېږي. د لایق شعر د رڼا، ښکلا، مینې او انسانې تکل غریزه ده:

ما وی د تالندو ه چیغوکې
د آزادیو سرود وغږوې
ماوې د نوی پیر بادونو ته به
خپلې ډېرې څنې ونڅوې

* * *

ماوې د مرو هدیرو باندې به
نوې ژوندون، نوې دوران خوروي
ماوې په خاوره دکوشان باندې به
نوی جهان نوی انسان جوړی

د چونغر نوی لیکل شوی ۲۸ ترانه

ــ شعر باید د هڅونکو، عاطفو توان ولري او د استاد شپون خبره چې د لایق شعر څه کوی چې، تشې خبرې هم په دې گاڼه، گاڼل شوی دی:

کله چې وریځې ستا له ترو څخه
را اوچتېږي قافلې ترې
سترگې زما د بدرگو لپاره
د مرغلرو سلسلې تړي

چونغر، ۹۳ مخ

ــ شعر په انسان کې د کلمو راژوندي کول او دوزن په جامه کې د هغو مرورل دي. هر څوک چې دغه توان و نه لري د کلمو

SPINTA

د سپکاوي او یا هم د هغو د مرګ سبب کېږي. خو لایق د دې کار او چارې استاد دی. د ساري په توګه د جنګ، شور، پولادو او اور کلمې زموږ په شعر کې په زرهاوو ځله کارول شوی، خو دلته بل احساس او بله جذبه لري:

که ته د تېـــرو خاطرو پــلار یې
یا ستا په غېږکې زمانې دی ویدې
زمـــا د شعر په ناپایه سیندکې
د ژونـــد د فکر زلزلې دی ویدې

چونغر، ۹٦ مخ

ښه شاعر تل په یو څه پسې ګرځي، په یو ارمان پسې او په یو خیال پسې، خو ښه شاعر غواړي هغه په تخیل وګاني او بیا د نظم جامې ورواغوندي:

ستا په هره کرشمه کې، نوي سوز او نوي ساز دي
نوي درد دي، نوي شور دي، نوي طرز او نو راز دي
نه دې رم تېرو ته ورته، نه دې چم هغسې شان دي
نه دې هغه وړ انجام دي، نه دې هغه وړ آغـــاز دي

چونغر، ۴۳ مخ

ـ کله چې د شاعر تخیل، د هغه د تفکر په ملګرتیا، په تورو کې د انځورېدو له لارې، مادی بڼه پیداکوي، له هغه نه شعر خور ېږي.

دا خاطرې او زلزلې به څه وی
که نوی سوز از نوی شور نه لری
د ډیوې تش خالی لوګی څه په کار
که د پتنګ لپـــاره اور نه لری

چونغر، ۹٦ مخ

څومره چې دغه تخیل پیاوری وي، له لمسون نه ډکُ وي، او څومره چې دا تخیل هستی ولري، په هماغه اندازه به شعر ښکلی وي.

ملا بانـــدې یې ځوړنده د څڼـــو توره توره
شوندونه یې سره بریښنا خوره د خونکاری
تی یې په زانـــګو د اوسیلو کې ښکته پورته

SPINTA

هسې خوځېدل لکه په موج جوړه هیـــلی
غېږ یې پرانستلې لکه ګل د سبـــا باد ته
خوله یې له خنـــدا نه ډکه کړي وه مستی
سترګو ته یې میـــو ورکړی رنګ د وینـــو
لږ راغوندې شوې، تنګې شوې، خنـــدنی
راغلله ورو ورو لکه دانه بېړی ساحل ته
تللی له خپـــــل ځانه مستانه او لیـــونی
ورانه له خنـدا شوه، وې یې ګوره لیونیه
نه به تل ځوانی وی، نه شراب او نه شهی
وتړه کتـــاب، شیشه راواخله د شرابو
ځغـــلی زه یې وینم، یو په بل پسې ګری
نیسه مې په غېږکې، هسې نه چې خوب مې یوسي
وړی رانه واک ئ دی، د شرابـــو بېخودی
ما په شرمېـدلی آواز وویل ،افسوس دی
نه لـــــرم توفیق ستـــا د لبانو د ګرمی
زه د وچو دښتو لمر وهلی پـــوونده یمه
چېرې وچو اغزی، چېرې دګل تازه غوټی
شرم راته بریښي چې دی خوله په شونډو کېږدم
ځاری مې د ولس سترګې، لایوه ګوله ډوډی
زه لا روږدی نه یم په محفل د ښاپیـــروکې
خبري مې له زړه نه، لا فریاد د غــــــریبی

یادونه او درمندونه، ۹۴ مخ

«ښکلا، د تفکر په مرسته، د منطقی، ذوقی اړیکو هم آهنګی ده.»[۲] که له همدغو مفاهیمو نه هم آهنګی رامنځ ته شي او د هم آهنګی په توروکې ونغښتل شي، شعر خپله ښکلا څو ځله زیاته وي. د ښکلا، تفکر او ذوق دغه اندازونه د لایق په شعرکې ځپې ځپې خورې دی. دغه ښکلی مفاهیم، په دغه شان نازکو اداګانوکې په ښکلو شعرونو بدلیږي. له همدې کبله، ویلی شو چې شعر د انساني روح ژبه ده.

مهمه نه ده چې شعر کوم ډول اندېښنې انځوروي، هغه (کينې)
اندېښنې دی که (ښې)، هغه نوی دی که لرغونې او پخوانی، خو
اصله خبره دا ده چې هغه انساني وي. يعنی د اشرف
المخلوقات له شان سره برابرې وی. د انساني مينې، د انساني
درد، د انساني رنځ، د انساني آزادی او يا انساني وير او يا
خوښی انځور گرې وي.
توری او کلمات، ترکيب او جمله او په پای کې هم آهنگی، توازن،
تصوير، وزن، تخيل، احساس، اندېښنه، سندريزوالی،
انځوروالی، بيان او وينا، د شعر د شعروالی لومړنی نښې دی.[۲]
دا ياد شوي لفظي او معنوي صنعتونه، د لايق د شعر ښکلاوی دی.

غــــرونو باندې پلنې شولی وريځې د نيســـان
ځمـــــکې باندې اوری مرغلـــرې د بـاران
مست شول بيا چــــړونه په نغموکې د زرکـانو
خوځی کتـــارونه بيـــا د زانو په آسمـان
هره تــــرانه چې د دريـــاب له څپو وزی
پوکی په بې ځـــانه دنيـــاگی کې نوی ځـان
خـــاندې په ډېرو ځراغـــونه د خـــاتول
وزې له سپېرو خـــاورو گلـــونه د ريحان
سپين گلان په شنه مرغه کې بريښی زما له سترگو
شپه کې د مستی په شنه آسمــــان کې کهکشان
هر څـــاڅکی د وينو مې لمن لمن گـلونه شول
رگ رگ کې مې خوځی، د شعـــرونو بلبـــلان
وريځې چې کتـــارې شی، د غرو په ديوالـــونو
ته وايې چې خوځی په افق کې سپين اوښـــــان
شور چې شی د تالندې، غـــوږو ته هسې رسی
ځغـــــلی چې آسمان کې، يرغلگر جنگې آسان
سم سول په سارا بانـــــدې د گلو چپـــاوونه
وخـــاته په ترو د ريدې گـــلو سپـايان

يادونه او درمندونه،۱۲۸ مخ

SPINTA

لایق د دغو ټکو په هنري انځور ګرۍ کې د لوی مهارت په درلودلو سره د ښکلا، د رنځونو، د دردونو، د اټکلونو، د راوېښېدو، د مينې او احساس شاعر دی.

اعراب، شعر د ټولو هنرونو روح او باطن بولي. هغوی له پخوانو زمانو راهیسې وايي چې ښه شاعر د قرآن عظيم الشان له برکته او پر ده د روح القدس له الهامه نه، ښه شاعر دی. روح القدس هغه عارفانه الهام او د زړه وحی ده چې پر شاعر له لوړې پېرزو کېږي، البته د «چونغر» او د «يادونه او درمندونه» په ځينو بيتونوکې، دغه راز ښې له ورايه ځرګندېږي.

هوراس، لا له ميلاده اته پېړۍ مخکې شعر د محاکاتو يا تقليد زېږنده باله. ابوالمعانی بېدل خو د شعر د کلماتو نه جوړ قيامت بولي او وايي:

بيدل سخنم کارگه حشر معانی است

چــون غلغله صور، قيامت کلماتم (۴)

لايق، د يوه متفکر په توګه شعر ليکي، هغه شعر نه جوړوي، هغه شعر ته په منډې قافيې او رديفونه، نه ليکي، هغه د يوه ښه انځورګر په توګه، هغه انځوروي.

ښه مضمون، او د ښه کلماتو غوره کول، هغه نوره ځانګړتياوې دي چې د لايق او د نورو شاعرانو د شعرونو تر نمځ د بېلتون کرښه باسي.

د دې ټولو ځانګړتياوو بيان د دې لپاره وشو چې ځرګند کړو لايق په خپله شاعرۍ کې د دې ټولو ساتنه او يادونه په خورا شاعرانه توګه کړې ده.

ځينې کره کتونکې د لايق په شعر کې د تاريخي اسطورو لړ والی ته اشاره کوي. په دې برخه کې بايد وويل شي چې برعکس د لايق شعر په ځان کې تر ټولو نورو نه زياتې اسطورې رامرورلی دی. که د هغه په شعر کې د شرين و فرهاد، يا ليلا و مجنون او پرومتې اساتير نه ليدل کېږي، پروا نه لري، د هغه شعر له ازلي او فطري اساتيرو ډک دی. د لايق په شعر کې راغلي اسطورې په انساني

فطرت کې نغښتې اسطوری دی. دا اساتیر هم مهاله د شاعر د فطرت اساتیر هم دی او په هغو کې د لایق فطرت هم راسپړل کیږي. د هغه اساتیر د هغه خدای، مور، مینه، وطن، لمر، غر، وریځې .... او نور دی. که اسطوره، د یوه ملت د افسانویي ژوند ته هغه را اخیستل شوی مفاهیم دی، چې تاریخ ته ورګډ شوی دی، نو کولی شو ووایو چې د چونغر، زیاتره شعرونه په خپله د انساني اساتیرو غوره بېلګې دی:

شور چې شي د تالندې غوړو ته هسې رسي
ځغلی چې آسمان کې یرغلګر جنګي آسان
سم شول په سارا باندې د ګلو چپاوونه
وخاته په ترو د ریدی ګلو سپایان
غشی د لمر اوری، له حصاره د وریځو
شنې زرغونې واخیست له رستم څخه کمان
ویلی الماس څاڅي، د تاکو له غوځو څانګو
ګلو ته نذرونه د شرابو وړی رزان

یادونه او درمندونه، ۱۲۸ مخ

د هغه شعر، د دغو او نورو اسطورو په وړاندې د هغه د احساس زېږنده دی. د هغه ټولې اندېښنې، احساسات، درد، تفکر او خیالات د ښکلو تصویرونو په بڼه د هغه په شعر کې دغه اساتیر انځوروي. په دغه تصویرونکې د وطن هغه خورا زیات او ښکلی راځي:

سوځی مې هډونه، یو علاج زما د دردو وکه
یو ښکلی تعبیر، زما د سرکشو ارمانو وکه
زما له فریادو سره ملګری که نغمه خپله
ویښ که د دغه قوم یو تدبیر د پښتنو وکه
دې جامد غرو ته حرکت ورکه، قوت ورکه
زموږ سره ملګری شه، ملاتړ د زلزلو وکه

چونغر، ۷۳ مخ

د لایق د ښه شعر یوه ځانګړتیا دا ده چې د هغه د شعر روح،

SPINTA

نه یوازې د زمان، وخت او د هغه د هم مهاله لوستونکو د روح سره هم آهنګ او هم آواز دی بلکې د کلونو ګوزارونه هغه د راتلونکو لپاره لا پسې پخوي او لا یې خوندور کوي:

دا له موږه سره څه کوی ګردون
دا ملګری د پښتانو، دغه دون
له غروره مې سر کوز نشو فلکهٔ ته
څومره لوړ دی، دا زما د خودی یون
دا افسوس دی چې خپل ورور راسره نه ځی
دا جاهل، په ځان نا پوه، دغه جبون
ګڼې ما به دا تاریخ و اړولی
په تقدیر به مې وهلی و شبخون
که آسمان هر څو څپېړي په مخ راکړې
تسلیم نشو دا زما زلمی جنون
یو زمان به د دې خلکو په سوکهٔ مات شي
هغه سر چې جګ آسمان ته وپرون

یادونه او درمندونه، ۷ مخ

دا شعر په ۱۳۴۳ کال کې لیکل شوی دی او اوس هم د هغه ټولې شعري ځانګړتیاوی او او د هغه سیاسي مفاهیم په خپل قوت سره پاتي دی.

د لایق یوه بله ځانګړتیا چې ډېر لږ شاعران هغه ته پاملرنه کوي دا ده چې هغه، د متضادو معناوو لرونکو کلمات داسې څنګ په څنګ ږدي او یا امیل کوي چهې بې ساري زړه راښکون او تلوسه رامنځ ته کوي. په دغه بهېر کې کله نا کله مفاهیم بدلېږي، کله نا کله د ځینو کلماتو لویوالی ماتېږي او کله هم د ځینو مفاهیمو او کلمو د وړو معناوو ارزښت لویېږي. دغه راز د ځینو ناوړه مفاهیمو سپېڅلی کول او د ځینو سپېڅلو هغو ناوړه او ان ناولی کول هم د ښه شعر په ځانګړتیاوی کې راځي.

ځینې په ټول ژوندکې دومره وکړي چې څه شاړه، آباده کړي، خو لایق نه یوازې دا چې دخپلې ژبې شاړه ځمکه آباده کړه، بلکې

هغه یې باغ هم کړه، په هغه کې یې ګلان هم کېښودل، هغه د دغه باغ بلبل هم شو، هغه پر دغو باغونو د ترانو، غزلو، او قصیدو په نامه د رنو اوبو چینې هم سپرې کړې دي.

که په ښکلاپېژندنه کې انډول، تناسب او له هغو سره مل زړه راښکنې او کشش لومړنی اصلونه دي نو په شعر کې د ښکلاییزې بڼې تر څنګ، بدیعه، بیان او معانې د ښکلا د انځورونو لارې برابروي. البته بیان بیا د تشبیه، کنایې او اسطورو په مرسته هغه لا پسې پیاوړې کوي.

که په دې برخه کې د خپلو شپږنو لړۍ اوږده کړو د ویناوو زړه راښکون، ښکلې او نادرې تشبه ګانې، د ولسي ویناوو او خبرو او اصطلاحاتو کارونه هغه نور فنون دي چې لایق خپل تخلیقات د هغو په رنګینۍ، رنګینوي.

د کلماتو یا تورو سندریزوالی او تکرار هغه فن دی چې د لایق په شعر کې یې غوره ځای پیدا کړی دی.

نور بیا .......